


## فرنسوا ولټر:

ولټر، یو فرانسوي لیکوال، مورخ او فیلسوف، د ټولنیزو اصلاح کونکو او آزاد فکر کونکو ترټولو نامتو استازی دی چې لیکنې یې په (۱۸)مه پیړۍ په فرانسه کې د اندونو او افکارو خوځښت او حرکت را پېژني او تعریفوي.

ولټر د نومبر میاشتې په (۲۱)مه، پر(۱٦۹۴)زېږدیز کال کې د فرانسې په پاریس کې زیږیدلی دی. دی اوه کلن وو، چې خپله مور یې له لاسه ورکړه. فرانسوا ولټر خپلې زده کړې د «لوي کبیر ښوونځي» کې د عیسویانو د څارنې لاندې ترلاسه کړې. نوموړي په دې ښوونځي کې لاتیني او یوناني ژبې زده کړې. هغهٔ په دې لار کې ډیرې هڅې وکړې او په هسپانوي، ایټالوي او انگلیسي ژبو کې یې هم مهارت درلود.

اتلسمه پیړۍ د روښانتیا د دورې په نوم یادیږي. فرانسوا ولټر په اروپا او فرانسه کې د روښانتیا د پېر او دور یو له خورا نوموتو فیلسوفانو څخه دی. ولټر یو نامتو او پیژندل شوی لیکوال دی چې د پام وړ ښبیرونه (اثار)یې پریښي دي. دی په خپل ژوند کې، د ځینو اندونو او فکرونو له امله، بندیخانې او زندان او جلاوطنۍ ته هم اړ شوی دی. ولټر ډېر مهم او گټور ښبیرونه(اثار)کښلي دي. د ده په ادبي ښبیرونو(اثارو) کې ډرامې، شعرونه، مقالې، تاریخي او علمي ښبیرونه (اثار) شتون لري. ولټر له شل زره څخه زیات لیکونه او ډېر زیات کتابونه او رسالې کښلې دي. د ده ترټولو مهم ښبیر

(اثر)چې نن ورځ په ټوله نړۍ او فرانسه کې پیژندل شوی دی، د (کانډیډ) ناول دی. دا فلسفي ناول په نړۍ کې د ژوند په اړه د انسانانو مثبت لید او نظر څرګندوي.

فرانسوا ولتېر د می میاشتې پر (۳۰)مه، پر (۱۷۷۸)ز کال  کې مړ شوی دی.

**تاسو مینه والو ته د فرانسوا ولتیر ګڼ شمېر مهمې او له ارزښت څخه ډکې خبرې او ویناوې وړاندې کوم.**

- هر څه چې شته، شتون یې چیغې وهي، چې ځښتن شته.

- مور د ژوند، مینې او محبت ستر سمبول دی.

- مینه هغه وسیله ده چې ټول کوچیني دردونه او کړاوونه په یو غټ درد او کړاو بدلوي.

- مینه له دوا او درمل څخه خوږه ده لکه څنګه چې کیسه او رومان له تاریخ څخه اغېزناکه دی.

- مینه پیاوړی اور دی، په یوه شیبه کې زړه او ماغزه تر برید لاندې نیسي.

- د مینې پیوند په بېلتانه څه چې په مرګ هم نه شلېږي.

- کله چې دوه مینن سره یو ځای شي او بیا سره جلا کېږي دغه دواړه شیبې له ډېرو ګرانبیه او قیمتي شېبو څخه شمېرل کېږي.

- مینه ډیری وخت د خندا وړ ده، خو بې کچې دوستي د شاه له حکم او امر څخه هم ډیره ځواکمنه او اړینه ده.

- ښځې د کب په څېر دي؛ د دوی ترلاسه کول اسانه دي او ساتل یې سخت دي.

- خدای ښځې یوازې د نارینه وو د تابع کولو لپاره موندلې دي.

- هر څومره چې خلک ودونه کوي په هماغه اندازه جرمونه کمېږي.

-  په ژوند کې تر ټولو خوږ شی د خپل میړه لپاره د ښځې د پاک زړه مینه ده.

- د ښځو دنده د نارینه وو اخلاقي روزنه ده.

- تر ټولو خوږ شی په ژوند کې د یوې پاکې زړې ښځې مینه له خاوند سره ده.

- زما د ټول ژوندانه بریاوې، هڅې، پوهه او ویاړونه له ښځې سره په یوه شېبه مینه نه ارزي.

- تاسو، امکان لري وکولی شئ، ګل له پښو لاندې کړئ خو امکان نه لري چې د هغه عطر له هوا څخه ورک کړئ.

- نیکمرغي او خوشبختي د هر کور دړه، ور او دروازه وهي، خو خلک هغه وخت نیکبخته او خوشبخته کېږي چې دړه، ور او دروازه ورته پرانیزي.

- د دې لپاره چې ښه لیکل وکړو باید په یو خپلواک هېواد کې ژوند وکړو.

- هر څوک دوه ځلې مري: لومړی هغه مهال چې له زړه نه یې مینه لاړه شي، دویم هغه مهال چې ژوند ته سپکې او سپورې وایي، خو د ژوند مرګ د مینې د مرګ په وړاندې نا څیزه دی.

- که پر ببوزلو غوسه شې، نو دلیل یې دادی، چې ځواکمن نه یې.

- اوښکې د غمونو څپه او خاماشه ژبه ده.

- زما په لاس کې چې تل د ادب قلم وي، نو د پاچاهۍ د تاج پروا نه لرم.

- ادب بل څه نه دی، خو له مهربانۍ سره خبرې او چلند.

- هغو کسانو چې علم او فرهنګ ته ستر چوپړ کړی دی هغه لیکوال او څیړونکي دي چې په انزوا کې یې ژوند کړی او هیڅکله یې په علمي بحثونو کې برخه نه ده اخیستې او په اکاډمیو کې یې سل په سلو کې نا ثابت حقایق نه دي بیان کړي.

- مطبوعات داسې ماشین دی چې په خپله نه ماتېږي خو محصول یې د نوي کېدو او پرمختیا په لړ کې د ورستیو شیانو، د ناپوهۍ او ظلمونو خاورې ایرې کول دي.

- ټول هنرونه یو د بل ورونه دي؛ هر هنر په نورو هنرونو رڼا اچوي.

- کار له موږ څخه درې سترې بدۍ لرې کوي: ناروغي، بدمرغي او کمښت.

- دوستي د اروا واده دی په هغه کې د بېلېدو او طلاق اجازه نه شته.

- د دو مینو یو ځای کېدل او بېرته بېلېدل د ژوندانه دوې ارزښتمنې شېبې دي.

- له زړورتیا او جرئت پرته خوشحالي نشته او له مبارزې پرته فضیلت نشته.

- انسان باید د ژوندانه په لاره کې د تورې په برکت په مخ لاړ شي تر څو خپله وسله تر لاسه کړي.

- تاسو کولی شئ لوی شئ او حتا زوړ شئ، خو ستاسو مور ته تاسو لاهم کوچنی ماشوم یاست.

- دوه شيان ماته د ژوند مانا لري يو آزادي او بله هغه ښځه چې مينه ورسره لرم.

- آزادي د ټولو انسانانو داسې شريک حق دی، څنګه چې ژوند کول د ټولو انسانانو حق دی.

- ټول خلک د ازادۍ سره مينه لري، خو دوی د هغې په ويجاړولو کې يو عجيب مهارت کاروي.

- کله چې تاسې وکولی شئ معنوي بريا ته ورسيږئ، نو به وګورئ چې مادي بريا هيڅ ارزښت نه لري.

- کتابونه په نړۍ يا لږ تر لږه په هغو قامونو، چې ليک و لوست يې زده وي واکمني کوي، نور قامونه يې ارزښت نه لري.

- د کتاب پاڼې داسې وزرونه دي، چې اروا مو د رڼا په لوري الوزوي.

- څومره چې ډېر کتابونه لولئ، هغومره به له ربښتيني او حقيقي ژوند څخه خوند اخلئ.

- ګټور کتابونه هغه دي چې لوستونکی وهڅوي او بشپړ يې کړي.

- کتاب پر نړۍ د تمدن واکمني کوي.

- د ورځپاڼې قلم د تبر په څېر دی چې ماتول يې ناشونی دی، دغه تبر د دې موخې او هدف لپاره جوړ شوی دی، چې زړې نړۍ ته تاوان ورسوي ترڅو نوې نړۍ رامنځته کړي.

- کار انسان له دغو درېيو سترو بلاوو څخه ژغوري: سستي، بې لاري، اړتيا.

- وزګارتيا او مرګ يو دي.

- د نورو خلکو د رازونو ويل خيانت دی، د خپل راز ويل ناپوهي او حماقت دی.

- يو پاک زړه د نړۍ تر ټولو ښکليو جوماتونو او معبدونو ښکلی دی.

- زه خپل خدای ته درناوی کوم، خو له بشريت سره هم مينه او محبت لرم.

- د ښځو دنده ده، چې د نارينه وو اخلاق وروزي.

- چې خبره د پيسو شي، بيا ټول يو دين و قانون مني.

- تاريخ،  د بشر د جنايتونو او بدبختيو انځور دی.

- لکه څنګه چې انسانان تاريخ جوړوي، تاريخ هم انسان جوړوي.

- مور ټول یو شان له میندو زېږېدلي یو، یوازې ښه والی او پرهېزګاري مو تر منځ برید ټاکي.

- هر انسان هغه هستي ده، چې په خپل پېر او عصر کې ژوند کوي، خو یو شمیر لږ کسان یوازې د هغه وخت له دودیزو اندونو او افکارو څخه بهر ژوند کولئ شي.

- د بدیو وروستی پړاو، د تېري په لار کې د قانون کارول دي.

- له حق او حقیقت سره مینه وکړه خو تیروتنې او خطا ته ښښنه وکړه.

- انسان هماغه شیبه چې د خپلواکېدو پرېکړه کوي، خپلواک دی.

- اختلاف د انسان تر ټولو لوی شر دی او زغم یې یوازینی لار ده.

- هنرونه ټول سره ورونه دي، هر یو پر بل وړانګې اچوي.

- تر هغې چې د ادب قلم زما په لاس کې دی، دا غم نه راځي چې د پاچاهۍ تاج مې پر سر نه شته.

- هغوی چې غواړي د کال څلور موسمه د پسرلي وي نه ځان پېژني، نه پنځ (طبیعت) او نه هم ژوند.

- په یوه ټولنه کې چې کار د وړتیا او استعداد پر بنسټ نه وي وېشل شوی په حقیقت کې یې ټول خلک بېکاره دي.

- مور ټول د زېږېدو له ورځې برابر پیدا شوي یو، خو د امتیاز توپیر مو په رښتینولۍ او سپېڅلتیا کې دی.

- د پنځ (طبیعت) ځواک تل د روزنې او پالنې نه زیات دی.

***

## په درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادر مسعود